مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سمسور ودان ۲۰۲۲/۰۹/۲۰

پېغله شوې

درې ورځې ووتې، د نوي درسي کال ورځې ژر تېریدلې خو هغه نه راتلله.

یوه اونۍ وروسته مې یې له کشرۍ خور وپوښتل: له خور دې د ۶ ټولګي درسونه تیریږي خو هغه نه راځي؛ ولې؟

ویې ویل: هغه خو مې مشر ورور کېنوله.

ومې پوښتل: ولې؟

ځواب یې راکړ: ورور مې ویل چې پېغله شوې ده.

نجلۍ لاړه؛ خو زما په ذهن کې ۳ میاشتې وړاندې د نتیاجو پر مهال د هغې له خور د شوې پوښتنې ځواب ګرځېده:

«استاذه زه ۱۲ کلنه یم»

لیکنه: سمسور ودان

۲۰۲۱/۱۲/۲۳

یادونه: د یو ملګري خور راسره ښوونځي کې زده کوونکې وه، ښه تکړه وه او هر کال ۲ یا ۳ نمره راتلله؛ خو چې کله د بل کال درس پیلېده، د هغې راتلل منع شول. له ورور مې وپوښتل: ولې اشنا؟ ځواب یې راکړ: مشر ورور مې وایي، چې هغه دې نور مکتب ته نه ځي! پېغله شوې ده.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ